# شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**د حديث شريف ژباړه**

**نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي:** د هري دوشنبې او پنجشنبې په ورځ د جنت دروازې خلاصېږي د هر بنده گناه معافېږي، چي مشرك نه وي مگر د كوم مسلمان، چي د بل مسلمان ورور سره دښمني وي د هغو په حق كي ملائكو ته وويل سي، چي انتظار ور ته وكړئ؛ ترڅو چي پخپلو كي روغه وكړي. [رواه مسلم باب النهي عن الشحناء (ص: ۳۱۷ ج: ۲)]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


شنبه | د شوال المكرم ۲۵ - ۱٤٤٥ال س/ د غويی ۱۵ - ۱٤۰۳ال ل/ د مي ۴ - ۲۰۲٤ز/دريم كال / ۹۷ گڼه/ ٤ مخيزه




## سر مقاله

### تقويت فعاليت های اقتصادی و مديريت بحران در افغانستان

افغانستان محور اصلی، چرخی اقتصادی و پايه ای بنيادی مهم رشد فعاليت های انكشافی در توسعه اقتصادی اين كشور بوده. از گذشته های نه چندان دور تا كنون فعاليت های اقتصادی كه بخش مهم وحياتی به حساب می آيد توجه كمتری به آن مبزول داشته است. پاليسی ها و استراتيژی های مختلف در نظام ها وسياست های اقتصادی كلان كه بتواند نقش موثر را در انكشاف اقتصادی، برای تقويت پايه های اساسی و بنيادی نظام باشد نقشی بسيار كم رنگی را داشته، بلكه چالش های زيادی را فرا روی توليد كنندگان و صنعت گران اقتصادی افغانستان قرار داده است. تقويت و رشد اقتصادی در جامعه می تواند كمك بی سابقه ای را به بخش های مختلف، در عرصه ای توليدات داخلی، صنعت و ميكانيزه ساختن سكتور های مهم اقتصادی، رشد وسيع زراعت، معياری ساختن انواع توليدات، تقويت صنعت صنايع داخلی و خدمات برای پيشرفت در رشد و انكشاف فعاليت های اقتصادی كه بايست نقش رشد اقتصادی را بازی ميكرد، تا به حال كمتر به چشم ميخورد. پيشرفت فعاليت های اقتصادی ميتواند بصورت منظم، در صنعتی شدن توليدات داخلی يک كشور رشد استثنايي را به بلندترين ميزان بوجود آورد، در حقيقت اين رشد بقای اقتصادی يک كشور را تقويت نموده وزمينه ای داد ستد تجارتی، معاملات ملی و بين المللی را در عرصه های مختلف اقتصادی و توسعه فعاليت انكشافی بوجود آورد. امكان آن می رود كه افغانستان در سال ۱٤۰۳ با چالش های اقتصادی عمده ای مواجه گردد، از اين رو بايد امارت اسلامی افغانستان با فعال ساختن مديريت بحران ميتواند، تورم و نوسانات ارزی را مديريت نموده، بر تقويت فعاليت های اقتصادی، رشد توليدات داخلی و انكشاف تجارت خارجی با تأمين و تحكيم روابط بين المللی در عرصه تجارت بين المللی، بحران را مديريت نموده و تأثيرات مثبت را در جهت شناسای و آسيب پذيری، خطرات بالقوه، آن را شناسای و انعطاف پذيری را توسعه داده، اقدامات پيشگيرانه را برای پيش بينی و كاهش اثرات احتمالی انجام دهد، تا بتواند پيامد های كه قبلاً پيش بينی شده است، بحران را رسيدگی نموده و انعطاف پذيری را برای دراز مدت ايجاد نمايد. درنتيجه ميتوان گفت، با تهيه و تنظيم استراتيژی های دقيق سنجيده شده، در بخش تقويت فعاليت های انكشافی و مديريت بحران در افغانستان، ميتوان توليدات ناخالص داخلی را افزايش، صادرات را تشويق و حمايت نموده، كسری بودن بودجه را كاهش و به متوازن بودن آن تاكيد و نقش بيكاری را در جامعه كاهش دهد. فلهذا نياز است برای مهار كردن بحران به موضوعات آتی تاكيد داشته باشيم:

۱. مديريت و كنترول غير قانونی كالاها و ارز خارجی به بيرون از كشور.

۲. بر گرداندن پول های منجميد افغانستان از بانک های خارجی به بانک مركزی.

۳. مساعد نمودن زمينه ای كاری، اقدام شايسته و مثبت از جانب آمارت اسلامی افغانستان در بارۀ كاهش بيكاری.

٤. از بين بردن تحريم های بانكی در شرايط فعلی، برای داد و ستد معاملات تجارتی بانكی با جهان.

۵. تقويت و انكشاف فعاليت های اقتصادی در سكتور های مختلف امارت اسلامی افغانستان.

٦. حفظ ثبات سياسی پول ملی در برابر ارز خارجی.

اينها همه مسايل اند كه ميتواند، برتقويت فعاليت های اقتصادی تاكيد نموده و كار آمد ترين برای ثبات اقتصادی و مديريت بحران در كشور باشد.

**با احترام**

**اداره**

## ماليې وزارت د تخصيصاتو پروسې په طی مراحلو كي اړيني اسانتياوي رامنځته كړي دي

د ملي بوديجې لوی رياست د (۱۴۰۲) مالي كال په وروستيو (۷) مياشتو كي د پرلپسې هڅو په بركت، د كال د منځنۍ بررسۍ د بوديجې سند ترتيب، طی مراحل او تكثير كړی دئ او همدارنگه ئې وكولای سول، چي د افغانستان اسلامي امارت له پاليسيو او لومړيتوبونو سره سم د (۱۴۰۳هـ.ش) مالي كال بوديجې د سند مسوده په اغېزمنه توگه د پايلو پر بنسټ، د لومړيتوبونو اصل ته په كتو، د هيواد له مالي امكاناتو سره سم ترتيب او طی مراحل كړي او د توشيح لپاره ئې د اسلامي امارت عالي مقام ته وړاندي كړي. پر دې سربېره په دوو مهمو برخو (امارتي شتمنۍ او د عملياتي چارو حفظ او مراقبت ريفوم) كي د شتمنيو ثبتولو پاليسي پلي سوې او د (۳۴) ولايتونو د اقتصادي پروفايل د كره ترتيب ارقام، چي د پوهني، كرني، لوړو زده كړو، عامي روغتيا، اوبو او انرژۍ او ټولگټو احصايه پكښې شامله ده راټول كړي دي. د ملي بوديجې لوی رياست د ورته بستونو د له منځه وړلو او د تشكيلاتي پاړسوب د مخنيوي په موخه د خپل رياست د تشكيل بيا كتنه كړې او د (عامي روغتيا، لوړو زده كړو، د كليو بيارغوني او پراختيا، د كرني او اوبو لگولو او پوهني وزارتونو) په شاملولو سره ئې په ازمايښتي ډول د بوديجې جوړوني پروسې دوهم پړاو هم پيل كړی دئ. د تعديلاتو د پلي كولو طرزالعمل ئې ترتيب او د تخصيص د ساده كولو



پروسه ئې پيل كړې ده او يوه (۱٦پړاويزه) پروسه ئې (۹پړاويزي) پروسې ته را لنډه كړې ده، چي دغه كار د پروسې د چټكتيا او د وخت ضايع كېدو د مخنيوي لامل گرځېدلی. د بوديجې د ثبت او اجراء سربېره ئې، د ۲۱م باب عالي بوديجې تخصيصاتو (مالي پلان)، د بوديجوي واحدونو پراختيايي پروگرامونو ته ئې د مالي ظرفيت او د افغانستان اسلامي امارت د پاليسۍ او لومړيتوب وركوني سره سم لومړيتوب وركړی او د لويو ملي پروژو لكه (د آقينې اندخوی رېل پټلۍ پروژې او قوش تېپې كانال) د پيل، پلي كولو او گټې اخيستني د پيل په بهير كي اسانتيا رامنځته كړې او هڅه سوې، چي شفافيت او سپما په بشپړ ډول تأمين او د غير ضروري لگښتونو مخنيوی وسي.

## ماليې وزارت د گمركي تعرفو په وسيله د كورني صنعت ودي او د سوداگرۍ پراختيا ته ښه زمينه برابره كړې ده

د ماليې وزارت له لوري پر يو شمېر توكو باندي د گمركي تعرفو په برخه كي د مهمو پرېكړو په وسيله، د كورني صنعت ودي او د دوه اړخيزي سوداگرۍ پراختيا ته ښه زمينه برابره سوې ده. د ماليې وزارت په مشرۍ او د لسو وزارتونو او خپلواكو ادارو په گډون، د يوې معتبري كمېټې د ارزونو سره سم؛ د كورنيو توليداتو د ودي، ملي عوايدو د زياتوالي او د سوداگرۍ د پراختيا په موخه، د مهمو ملي او اقتصادي موضوعاتو په نظر كي نيولو سره، په ځينو وارديدونكو او صادرېدونكو توكو باندي د گمركي تعرفې اندازه ټاكل كېږي. پر همدې بنسټ، د ماليې وزارت د تعرفې رياست او د تعرفې گډي كمېټې له لوري په تېر (۱۴۰۲) مالي كال كي مهمي او گټوري پرېكړي سوي دي، د حمايوي تعرفې عملي كول، ځيني كورني كرنيز توكي په موسمي تعرفه كي شاملول، د بيي اېښودني له كوډونو سره د تعرفوي كوډونو سمون، د توكو د دقيق تثبيت په موخه مركزي او ولايتي لابراتوارونه فعالول، د تعرفوي هماهنگ سيستم بيا نوی كول، د موسمي تعرفو بيا كتنه او اصلاح، د تعرفوي پاليسيو د پراختيا په موخه هر اړخيز



تحليل او كمېټې جوړول او د تعرفوي پاليسۍ او پلان په دقيق ډول عملي كولو سره؛ د كورنيو توليداتو ودي او د دوه اړخيزي سوداگرۍ پراختيا ته ښه زمينه برابره سوې ده. د يادونۍ وړ ده، چي د ماليې وزارت په مشرۍ د تعرفې گډه كمېټه د ملي عوايدو د ډېروالي، د سوداگرۍ پراختيا او كورني صنعت د ودي په موخه پر وارديدونكو او صادرېدونكو توكو باندي گمركي تعرفه لوړه او يا هم ټيټوي او د ماليې وزارت د رهبري له تائيد وروسته په ټولو گمركونو كي عملي كېږي.

## د روان كال په لومړۍ مياشت كي د گمركونو له لاري زرگونو سوداگريزو محمولو تگ راتگ كړی دئ

د ماليې وزارت له لوري د هيواد په گمركونو كي كورنيو او بهرنيو سوداگرو ته د پام وړ اسانتياوي رامنځته سوي؛ د گمركونو فعاليتونه (۲۴) ساعته سوي، فساد له منځه وړل سوی، برېښنايي سكېنرونه او تلي فعالي سوي او توكي پر وخت او شفاف ډول طي مراحل كېږي. پر همدې بنسټ، د روان (۱۴۰۳هـ.ل) مالي كال د حمل (وري) په مياشت كي د هيواد له گمركونو څخه، د نږدې (۵۰) ميلیارده افغانيو په ارزښت، زرگونه وارداتي، صادراتي او ترانزيټي محمولو تگ راتگ كړی دئ، چي مجموعي وزن ئې (۱،۷) ميليونه ټنو ته رسېږي. د يادوني وړ ده، چي په تېر (۱۴۰۲) مالي كال كي د گمركونو چارو د (۱۴۰۱) كال په پرتله (۸،۲) سلنه پرمختگ كړی او په روان مالي كال كي به د ترتيب سوي پلان له پلي كولو سره سم، د گمركونو په چارو كي لا ډېر ښه والی او پرمختگ رامنځته سي.





د ماليې وزارت د رئيسانو او آمرينو لپاره د «رهبرۍ او ستراتيژيك مديريت» تر عنوان لاندي روزنيز پروگرام جوړ سو


م ۲




د هيواد د ټولو مستوفيتونو كاركوونكو لپاره انلاين روزنيز پروگرام پيل سو


م ۲






د ولايتي گمركونو د ښووني او روزني له مسؤلينو سره انلاين ناسته وسوه


م ۲




د كندهار، هرات، فراه او نيمروز ولايتونو په ځينو سيمو كي قاچاقي توكي نيول سوي دي


م ۲




افزايش درآمد ملی


م ۳






د افغانستان له پاره د تركمنستان تگلاره: د خطرونو انډول او سربسته فرصتونه


م ٤

# د مالیې وزارت د رئیسانو او آمرینو لپاره د «رهبرۍ او ستراتیژیک مدیریت» تر عنوان لاندي روزنیز پروگرام جوړ سو

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمېسیون د مالیې وزارت د بشري سرچینو له ریاست سره په همغږۍ د دغه وزارت د رئیسانو او آمرینو لپاره د «رهبرۍ او ستراتیژیک مدیریت» تر عنوان لاندي روزنیز پروگرام جوړ کړ. دغه پروگرام کي، چي د مالیې وزارت په خیبرهال کي جوړ سوی وو، د مالیې وزارت اداري معین مولوي دوست محمد مخلص، د دفتر لوی رئیس مولوي عبیدالله ابو احمد، د دغه وزارت د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر، د ملکي خدمتونو د انستیتیوټ رئیس مولوي عبدالرحیم احسان او د مالیې وزارت اړوندو ادارو رئیسانو او آمرینو ګډون درلود. مولوي احمدشاه شاکر د دغه پروگرام په پرانیستې وینا کي د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو له کمېسیون څخه د دغه روزنیز پروگرام د جوړولو له امله مننه وکړه او زیاته ئې کړه؛ تاسي د دغه اسلامي نظام د حاکمېدو لپاره بې شمېره قربانۍ ورکړې دي اوس د هغه د بقا او حفاظت لپاره، روزني، له رهبرۍ، مدیریت، د اداري اساساتو او ځینو نورو اړینو موضوعاتو سره بلدتیا ته اړتیا لرئ. لکه ځنګه مو، چي د جګړې په ډګر کي دښمنان مات کړل، هڅه وکړئ، چي داخلي او بهرني دښمنان د سیاست،



اقتصاد، فرهنګ او ټکنالوژۍ په ډګر کي هم مات کړئ. د مالیې وزارت اداري معین مولوي دوست محمد مخلص وویل، دلته زموږ له راټولېدو څخه موخه د دې خاورې د شهیدانو او یتیمانو هغه ارمان پوره کول دي، چي د اسلامي نظام ټینګښت او ساتل وه. په حقیقت کي موږ په یوه دوه مرحله‌یي امتحان کي قرار لرو(۱- جهاد او د اسلامي نظام حاکمیت او ۲- د هغه ساتنه او دفاع) لومړۍ پړاو اسانه وو، ټولو که زوړ و که ځوان، لوستی و که نالوستی خپله برخه ئې پکښي اخیستې وه او دوهمه مرحله ئې د اسلامي نظام ساتنه او دفاع ده، چي سواد، قلم، ظرفیت، له نفس سره مقابلې ته اړتیا لري.

نوموړي، له ګډونوالو وغوښتل، چي د خپل ظرفیت د لوړولو په موخه له یاد پروګرام څخه اعظمي ګټه پورته کړي او ترڅنګ ئې زیاته مطالعه هم وکړي. د ملکي خدمتونو د انستیتیوټ رئیس مولوي عبدالرحیم احسان په خپلو خبرو کي د دغي څېړنیزي اداري فعالیتونو ته په اشارې وویل، د اسلامي امارت رهبرۍ د دغه نظام د بقا لپاره هوډمنه ده او تاسو باید په دغه برخه کي مرسته وکړئ؛ ترڅو دغه هوډ ته د عمل جامه ور واغوندئ. هغه زیاته کړه، چي د نظام او حکومتدارۍ ساتنه ژمنتیا او تخصص ته اړتیا لري. تاسي له دې نظام سره خپله ژمنه ثابته کړې اوس خپل تخصص هم په بصیرت او پوهاوي، درک او احساس او د استادانو درسونو ته په کښېناستو ثابت کړئ. نوموړي، دغه روزنیز پروګرامونه د داخل خدمت زده کړو په نوم یاد کړل او له ګډونوالو څخه ئې وغوښتل، چي له دغه طلایي چانس څخه پوره ګټه واخلي. یاد پروګرام د خیر په دعایې پای ته ورسید. د یادوني وړ ده، چي دغه روزنیز پروګرام به پنځه ورځي دوام وکړي او په هغه کي به ګډونوالو ته «ستراتیژیک مدیریت او د رهبرۍ اساسات» تدریس سي.

## د هیواد د ټولو مستوفیتونو کارکوونکو لپاره انلاین روزنیز پروگرام پیل سو

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست اړوند د سیستم ریاست له لوري د هیواد د ټولو مستوفیتونو کارکوونکو لپاره د سیګتاس په برخه کي روزنیز پروګرام پیل سو . د یاد روزنیز پروګرام په پیل کي د ولایتي عوایدو د پراختیا او همږغۍ رئیس مولوي عبدالمجید «نجیب الله» د سیستم ریاست د سیستمونو د تحلیل او تطبیق آمر احمدالله احمدي د ولایتي عوایدو د پراختیا او همغږۍ ریاست د اول ګروپ آمر عصمت الله سرابي او تخنیکي همکارانو ګډون کړی وو . مولوي عبدالمجید «نجیب الله» په خپله پرانیستې وینا کي وویل، چي په دغه ډول روزنیزو پروګرامونو سره ستاسو وړتیا لوړېږي او کولای سئ در سپارل سوی مسؤلیت په ښه توګه ترسره کړئ. د سیستمونو د تحلیل او تطبیق آمر احمدالله احمدي په خپلو خبرو کي وویل، چي د عوایدو لوی ریاست اړوند د سیستم ریاست د هیواد په ټولو ولایتونو کي (۹۰) سلنه حضوري روزنیز پروګرامونه مخته وړي دي . د یادوني وړ ده، چي یاد روزنیز پروګرام به د یوې اوونۍ لپاره دوام وکړي .



## د ولایتي ګمرکونو د ښووني او روزني له مسؤلینو سره انلاین ناسته وسوه

د مالیې وزارت د ساتني او څانګړو عملیاتو تنفیذي قطعې قومندانۍ د مسؤلینو له لوري د ولایتي ګمرکونو د ښووني او روزني له مسؤلینو سره انلان ویډیویي ناسته وسوه. په دغه ناسته کي د مرکزي قطعې مسؤلینو د چارو د لا ښه پرمختګ په موخه، د ولایتي ګمرکونو د ښووني او روزني مسؤلینو ته د دندې پر مهال د ټولو اصولو او یونیفورم مراعتولو، تقوا غوره کولو، د کارکوونکو ترمنځ د ښه چلند، له اړتیا پرته له غیر حاضري نه کولو، په منظم



ډول روزنیزو پروګرامونو او ورځنیو درسونو ته د چمتووالي، د افسرانو معنوي اصلاح ته د ځانګړې پاملرني او د اطاعت پذیرۍ د کچې لوړولو په موخه اړیني لارښووني وکړې او ولایتي مسؤلین مکلف و بلل سول، چي د خپلو چارو منظم راپور پر وخت له مرکز سره شریک کړي. همدا راز د ولایتي مسؤلینو د اړوندو برخو ستونزي او وړاندیزونه هم واورېدل سول، چي د حل په موخه به ئې اقدام وسي.

## د کندهار، هرات، فراه او نیمروز ولایتونو په ځینو سیمو کي قاچاقي توکي نیول سوي دي



د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو تېره اوونۍ د کندهار، هرات، فراه او نیمروز ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي یوه اندازه قاچاقي توکي کشف او نیولي دي. په نیول سوو توکو کي (۳۳۸۰) کیلو ګرامه پاکستاني انساني طبي درمل، (۵۸۰) کیلو ګرامه حیواني درمل، (۳۱۰۴) کیلو ګرامه رُب، (۲۳۵۰) کیلو ګرامه پاکټي شیدې، (۱۳۲۰) کیلو ګرامه ګوړه، (۹۶۳) کیلو ګرامه لوبیا، (۷۰) کارټنه کیچپ، (۲۰۸) کیلو ګرامه لواشک او (۱۳) بستې پایپونه شامل دي، چي قاچاق کوونکو غوښتل پر غیر رسمي لارو ئې په قاچاقي ډول هیواد ته راوړي. نیول سوي توکي د نورو اجراآتو لپاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي.

## د کندهار، فراه او ننګرهار په ولایتونو کي یو شمېر قاچاقي توکي نیول سوي دي





د ګمرکونو لوی ریاست د ګرځنده څارني کارکوونکو د کندهار، فراه او ننګرهار ولایتونو په بېلابېلو سیمو کي یو شمېر قاچاقي توکي کشف او نیولي دي. په نیول سوو توکو کي (۱۹۶) دانې بېلابېل ډوله ټچ موبایلونه، (۱۵۶۰) کیلو ګرامه پاکستاني انساني درمل، (۱۴۷۶) کیلو ګرامه رُب، (۲۴۱۶) کیلو ګرامه چاکلیټ او (۸۴۰) کیلو ګرامه ګوړه شامله ده، چي قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې هیواد ته راوړي. یاد نیول سوي توکي د نورو اجراآتو لپاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي.

## د مالیې وزارت د مرکز ۴۰ تنو کارکوونکو ته د پښتو ژبي روزنیز پروگرام جوړ سو



د مالیې وزارت د بشري سرچینو ریاست د دغه وزارت (۴۰) تنو کارکوونکو ته د پښتو ژبي درې میاشتنی روزنیز پروګرام جوړ کړ. د دې پروګرام په پرانیستغونډه کي د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر وویل، چي نن سبا په پښتو لیکل سوو مکتوبونو کي ډېري تېروتني رامنځته کېږي، په داسي حال کي چي پښتو او دري دواړه ملي ژبي دي او موږ دواړو ژبو ته بشپړ درناوی لرو. د دې پروګرام د پیل اصلي موخه هم په سمه او معیاري پښتو د مکتوبونو لیکل دي. ساده او روان لیکل، د عامو اصطلاحاتو او مناسب فارمېټ کارول او په لیکلو کي دقت له پامه باید ونه غورځول سي. نوموړي له ګډونوالو وغوښتل، چي له دې پروګرام څخه ګټه واخلي او د پښتو ژبي په برخه کي خپلي نیمګړتیاوي حل کړي. د یادوني وړ ده، چي د بشري سرچینو ریاست تل د مالیې وزارت د کارکوونکو د وړتیا لوړوني په موخه دا ډول روزنیز پروګرامونه جوړ کړي دي.تر څو د کارکوونکو مسلکي پوهه وده وکړي او ورسپارل سوي دندې په ښه توګه ترسره کړي.

# افزایش درآمد ملی

خالد دلاور
آموزگار عواید

افزایش درآمد ملی یک هدف کلیدی برای هر کشور است زیرا درآمد ملی یکی از رایج ترین شاخص های اقتصادی است که به منظور ردیابی سطح سلامت اقتصاد یک کشور مورد بررسی قرار می گیرد و افزایش مستمر و پایدار آن به نوعی بیان کننده سلامت اقتصاد کشور و اتخاذ سیاست های پولی و مالی مناسب است، که منجر به رشد بیشتر اقتصادی، بهبود سطح زندگی و رفاه اجتماعی می شود. راهبرد های مختلفی وجود دارد که می توان برای افزایش درآمد ملی و تسهیل توسعه پایدار استفاده کرد. در این مقاله ما در مورد برخی از اقدامات موثر که دولت ها می توانند برای افزایش درآمد ملی انجام دهند صحبت خواهیم کرد.

تشویق کسب و کار و نوآوری: با توجه به رشد روز افزون فناوری و پویایی بازار های رقابتی در جهان مبحث تحقیق و توسعه و نوآوری در خلق ایده ها و روش های جدید تولید و تجارتی از اهمیت بالایی برخوردار شده اند به طوری که هر کسب و کاری نیازمند آن است که با تخصیص زمان و بودجه مناسب در راستای بهبود تیم تحقیق و توسعه خود و تشویق ایده های نو در سازمان به رقابت با بازار جهانی بپردازد و بقای خود را در این رقابت پویا حفظ نماید. تقدیر کسب‌وکار و نوآورانه برای رشد اقتصادی و افزایش درآمد ملی بسیار مهم است. دولت ها باید کسب و کار آفرینی را با سیاست هایی که دسترسی آسان به سرمایه را فراهم می کنند، موانع دیپلماتیک را کاهش می دهند و انگیزه های مالیاتی ارائه می دهند، حمایت کنند. علاوه بر این، سرمایه گذاری در برنامه های تحقیق و توسعه می تواند نوآوری و پیشرفت تکنالوژیکی را تشویق کند و به افزایش تولید و رقابت منجر شود.

بهبود آموزش و توسعه مهارت ها: سرمایه گذاری در آموزش و پرورش و پیشرفت مهارت ها برای بهبود کیفیت نیروی کار ضروری است. جمعیت تربیت یافته و حرفه ای می تواند به طور قابل توجهی به رشد اقتصادی و افزایش درآمد ملی کمک کند. دولت ها باید منابع کافی را برای آموزش اختصاص دهند و دسترسی به آموزش با کیفیت را در تمام سطوح تضمین کنند. برنامه های آموزش حرفه‌ای نیز باید مورد تشویق قرار گیرد تا افراد را با مهارت های مورد نیاز برای کار در بخش های با تقاضا بالا فراهم کند.

بهبود زیر ساخت های اقتصادی: زیرساخته های موثر نقش مهمی در تشویق فعالیت های اقتصادی و جذب سرمایه گذاری دارند. دولت ها باید با سرمایه گذاری در شبکه های حمل و نقل، سیستم های انرژی، تلیفون و سایر زمینه های کلیدی، توسعه زیرساخت ها را اولویت قرار دهند. زیرساخت های خوب توسعه یافته نه تنها تجارت را تسهیل می کند بلکه هزینه های معامله را کاهش می دهد، تولیدات را افزایش می دهد و رشد اقتصادی را تشویق می کند.

تشویق سرمایه گذاری های مستقیم خارجی(FDI): سرمایه گذاری های مستقیم خارجی می توانند منافع قابل توجهی برای اقتصاد یک کشور داشته باشند. از جمله عواملی که می توانند رشد اقتصادی، رشد اقتصادی پایدار و بالا را برای کشورها به ارمغان آورند، سرمایه گذاری مستقیم خارجی و تجارت خارجی است. سرمایه گذاری مستقیم خارجی می تواند به عنوان مکملی برای نهاده های مالی داخلی و ابزاری برای رسیدن به هدف رشد اقتصادی باشد. هم چنین سرمایه گذاری مستقیم خارجی به دلیل مزیت های متعدد از جمله انتقال تکنالوژی، دانش روز و ایجاد اشتغال، از مطلوبیت زیادی برخوردار است. دولت ها باید یک محیط سرمایه گذاری جذاب ایجاد کنند با اجرای سیاست های دوستانه سرمایه گذاران، ایجاد چارچوب های تنظیماتی شفاف و موثر و ارائه انگیزه ها برای سرمایه گذاران خارجی. واردات (FDI) فرصت های شغلی ایجاد می کند، تکنالوژی و دانش را انتقال می دهد و به افزایش درآمد ملی کمک می کند.

ترویج تجارت و رشد مبتنی بر صادرات: تجارت میتواند وضعیت همه را بهتر کند (اصل پنجم علم



اقتصاد)، تجارت به کشور ها این امکان را می دهد که در کارهایکه به بهترین نحو انجام می دهند تخصص یافته و از تنوع بیشتر از کالاها و خدمات برخوردار شوند. تجارت بین المللی می تواند به طور قابل توجهی به افزایش درآمد ملی کمک کند. دولت ها باید سیاست های را دنبال کنند که صادرات را تشویق کنند و موانع تجاری را حذف کنند و به صنعت های محلی اجازه بدهند که در بازارهای جهانی رقابت کنند. از طریق توافقات تجاری و اتحادات، کشورها می توانند دسترسی به بازار خود را گسترش دهند و صادرات را افزایش دهند، که منجر به افزایش درآمد خارجی و درآمد ملی می شود.

حمایت از کسب و کارهای کوچک و متوسط SME

SME: پهنای بسیاری از اقتصاد ها است، فرصت های شغلی را فراهم می کند و به رشد اقتصادی کمک می کند. دولت ها باید سیاست هایی را اجرا کنند که از طریق دسترسی به مالی، خدمات توسعه کسب و کار و فن آوری به (SME) ها حمایت می کنند. با تشویق و توانمند کردن شرکت های کوچک و متوسط، دولت ها می توانند محیطی مناسب برای کسب و کار، نوآوری و افزایش درآمد ملی ایجاد کنند. طوری که بخش عمده ای از نیروی کار افغانستان در بخش های خدمات و اغلب در شرکت های کوچک و متوسط مشغول به کار هستند. دولت به منظور حمایت از صنایع کوچک و متوسط، سیاست هایی مانند معافیت ها و مشوق های مالیاتی و تسهیل شرایط دسترسی به منابع مالی را برای فعالان اقتصادی، به ویژه شرکت های کوچک و متوسط (SME) ها اتخاذ نماید.

مالیات و مدیریت مالی موثر: افغانستان کشوریست که عواید را از منابع داخلی و خارجی بدست می آورد. یکی از بخش های که در درآمدزایی دولت نقش بزرگ ایفا می کند، مهمترین منبع داخلی جمع آوری مالیات است. یک سیستم مالیاتی موثر برای ایجاد درآمد و تسهیل رشد اقتصادی بسیار مهم است. دولت ها باید اطمینان حاصل کنند که سیاست های مالیات عادلانه، شفاف هستند و تعهدات را تشویق کنند. آنها همچنین باید بر کاهش اجتناب از مالیات و اجرای شیوه های موثر مدیریت مالی تمرکز کنند. با بهینه سازی جمع آوری مالیات و استفاده موثر از منابع دولتی، دولت ها می توانند درآمد ملی را افزایش دهند و کالاها و خدمات عمومی ضروری را ارائه دهند.

خلاصه:

افزایش درآمد ملی نیازمند یک رویکرد جامع است که جنبه های مختلف توسعه اقتصادی را پوشش می دهد. دولت ها باید سیاست ها و نوآوری هایی را که کسب و کار، آموزش، توسعه زیرساخت ها، FDI، تجارت، حمایت از SME و مالیات موثر را تشویق می کنند، اولویت قرار دهند. با اتخاذ این اقدامات، کشورها میتوانند راه را برای رشد اقتصادی پایدار، بهبود سطح زندگی و افزایش رفاه اجتماعی آماده کنند.

منابع:

۱ غلام مصطفی غفوری (ده اصل مهم علم اقتصاد) چاپ سال ۱۴۰۰
۲ میلاد میر (راهبرد های افزایش درآمد ملی ) سال ۱۳۹۹
۳ نظرات شخصی نویسنده خالد دلاور

مخففات:

بنگاه های کوچک و متوسط
(SME): Small and Medium Enterprises
سرمایه گذاری مستقیم خارجی
(FDI): Foreign Direct Investment


# اعلانات داوطلبی

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظردارد، (پروژه تهیه و تدارک ۲۵ عراده موتر سایکل مورد ضرورت ریاست عمومی گمرکات) دارای نمبر تشخیصیه (٠٠٣-NCB/G/١٤٠٣/MOF) را با شرکت تجارتی ادیبیان ساحل دارنده جواز نمبر ٨٤٨٥٠ به قیمت مجموعی مبلغ ٢,٠١٢,٥٠٠ (دو میلیون و دوازده هزار و پنجصد) افغانی عقد قرارداد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض درزمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ ١٣/ ثور/١٤٠٣ الی ١٩/ ثور /١٤٠٣ طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نماید. این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان –ریاست تدارکات،آمریت تدارکات- مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

### دعوت به داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء (تدارک و کندن کاری برای کیبلینگ کمره های امنیتی ریاست عمومی گمرکات) دارای نمبر تشخیصیه (٠٢٢-NCB/G/١٤٠٣/MOF) که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش یا میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ٢٢/ ثور/١٤٠٣ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ٠١/ جوزا/١٤٠٣ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ١٠٠,٠٠٠ (یکصد هزار) افغانی میباشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦

### د کابل ښاروالۍ اړوند د منډيي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ (۱۱) بابه دوکانونو د داوطلبۍ خبرتیا!

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست، غواړي، چي د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحيې اړوند منډيي په کوڅه کي د مدینه مارکېټ (۱۱) بابه دوکانونه په جلاجلا ډول د داوطلبۍ له لارې اعلان ته وړاندي کړي.

۱. د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۷۵ نمبر دوکان، چي ۸،۷۴ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۳۲۱۳.۲) افغانۍ ده.
۲. د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۷۶ نمبر دوکان، چي ۹،۵۰ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۳۳۵۷) افغانۍ ده.
۳. د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۷۷ نمبر دوکان، چي ۹،۵۰ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۴۳۱۹.۹) افغانۍ ده.
۴. د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۷۸ نمبر دوکان، چي ۱۰،۴۵ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۴۹۷۴) افغانۍ ده.
۵. د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۷۹ نمبر دوکان، چي ۱۰،۴۵ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۸۶۸۸) افغانۍ ده.
۶. د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۸۰ نمبر دوکان، چي ۲۱،۴۵ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۴۹۶۲۵.۱) افغانۍ ده.
۷. د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۸۱ نمبر دوکان، چي ۲۰،۹۰ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۷۸۸۲.۹۵) افغانۍ ده.
۸. د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۸۲ نمبر دوکان، چي ۱۳،۶۳ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۰۰۲۲) افغانۍ ده.
۹. د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۸۳م نمبر دوکان، چي ۲۱،۸۴ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۴۴۱۲۵) افغانۍ ده.
۱۰. د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۸۴م نمبر دوکان، چي ۱۶،۶۶ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۴۰۸۸۰.۷) افغانۍ ده.
۱۱. د مدینه مارکېټ اړوند، یو باب ۸۵م نمبر دوکان، چي ۱،۷۶ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۳۵۸۰.۵) افغانۍ ده.

کوردینات (جي. پي. اس نمبر): ٣٤,٥١٧٤١-٦٩,١٧٧٢٤
هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (ثور/۱۱ /۱۴۰۳) څخه وروسته تر (ثور/۱۴۰۳/۳۱) پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپانه ترلاسه کړي.
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د داوطلبۍ مجلس: د (جوزا /۰۱ /۱۴۰۳) نېټه، د سهار ۱۰ بجې ترسره کېږي.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤



ويبسايټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

د امتياز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

شتمنی SHTAMANI اوونيزه




## Thousands of Commercial Shipments Pass Through Customs in 1st Month of Current FY1403



MoF has provided significant facilities for domestic and foreign traders within the country customs, customs operations have been extended 24 hours, corruption has been eradicated, e-scanners plus weighing scale have been activated and goods are processed in a timely and transparent manner. Based on this, thousands of import, export and transit shipments with a value of roughly 50 billion Afs have passed through the country's customs in the month of Hamal (1st month of Hijri Year) of the current FY1403, which their total weight reaches 1.7 million tons. Notably, in the last FY1402 the customs affairs improved by 8.2% compared to the FY1401 and in the current 'fiscal year', according to the implementation of the plans, there will be more improvements and developments in customs affairs.

## 4 Major Customs Mobile Surveillance Staffs Seize Contrabands Amid Patrolling

Mobile surveillance staff of the General Directorate of Customs detected and seized a quantity of contrabands last week in different areas of Kandahar, Herat, Farah and Nimroz provinces. Among the contrabands are 3,380kg of Pakistani medicine, 580kg of veterinary medicine, 3,104kg of tomato paste, 2,350kg of dry milk, 1,320kg of jaggery, 963kg of beans, 70 cartons of ketchup, 208kg of fruit leather or fruit-roll and 13 packages of pipes. According to mobile surveillance staff, the



smugglers attempted to bring illicit goods into the country illegally. The seized contrabands have been handed over to the relevant customs for further processing.




## هزاران محموله تجاری در ماه اول سال جاری از گمرکات رفت و آمد کرده است

وزارت ماليه تسهيلات قابل توجهی را برای تجار داخلی و خارجی در گمرکات کشور ايجاد کرده است؛ فعاليت های گمرکات (۲۴) ساعته شده، فساد از بين رفته، سکنرها و ترازو های الکترونيکی فعال و اموال در عصره وقت به شکل شفاف طی مراحل می شوند.

بر اين اساس هزاران محموله وارداتی، صادراتی و ترانزيتی به ارزش نزديک به (۵۰) ميليارد افغانی در ماه حمل سال مالی جاری (۱۴۰۳هـ.ش) از گمرکات کشور رفت و آمد کرده است که وزن مجموعی آن به (۱،۷)ميليون تن ميرسد.



قابل يادآوريست که در سال مالی گذشته (۱۴۰۲) امور گمرکی نسبت به سال (۱۴۰۱)، (۸،۲) در صد افزايش داشت و در سال مالی جاری همزمان با تطبيق پلان ترتيب شده، بهبود و پيشرفت بيشتری در فعاليت های گمرکات ايجاد خواهد شد.

Afghanistanmof www.mof.gov.af




## د افغانستان له پاره د ترکمنستان تګلاره د خطرونو انډول او سربسته فرصتونه




د ډيپلومات ـ THE DIPLOMAT په نوم جاپانی رسنۍ د اېلدانيز ګوسينوف (Eldaniz Gusseinov) مقاله خپره کړې ده، چې په ټوليز ډول د افغانستان ـ ترکمنستان تر منځ پر اقتصادي او سوداګريزو اړيکو راګرځي او پر هغو فرصتونو بحث کوي، چې وايي لا تر اوسه پوري سربسته پاته دي او ګټه ور څخه نه ده اخيستل سوې. په دې مقاله کي ليکلي دي، چې عشق آباد د خپل دوديز ناپيلتوب او له افغانستان څخه د احتمالي ګواښونو د کمولو تر منځ په يوه نازک توازني حالت کي قرار لري. د دې ننګونو په ځواب کي ترکمنستان په سراتيژيک ډول له افغانستان سره د خپلو ډيپلوماټيکو اړيکو د زياتولو له پاره غور کړی دئ. د روان کال له پيل راهيسي د ترکمنستان او افغانستان ترمنځ د مهمو موضوعاتو؛ لکه: د ترکمنستان - افغانستان - پاکستان - هند (ټاپي – TAPI) پايپليکي يا نلليکي د تطبيق او د لاجوردو دهلېز په ګډون د ټرانسپورټي دهلېزونو د پراختيا په اړه اړيکي ټينګي سوي دي. د ګوسينوف مقاله پر دې ټينګار کوي، چې وايي د دواړو ګاونډيو هيوادونو تر منځ پراته اقتصادي ـ جيوپوليټيکي فرصتونه سته، چې بايد کار ور څخه واخيستل سي؛ نو د

> "د دې سوداګريزو فرصتونو له لاري به افغانستان د ترکمنستان د بندرونو له لاري له اذربايجان، اروپا او روسيې سره ونښلول سي.
>
> د نلليکو او ټرانسپورټي دهلېزونو د پيل له پاره نوي فرصتونه سته، نو د دغو دليلونو له مخي ترکمنستان پرېکړه کړې ده، چې د اسلامي امارت له حکومت سره د ښو اړيکو پر پراختيا کي پانګونه و کړي."

ټينګار په مقصد داسي ټکي رانغاړي، چې وايي: «د دې سوداګريزو فرصتونو له لاري به افغانستان د ترکمنستان د بندرونو له لاري له اذربايجان، اروپا او روسيې سره ونښلول سي.» په مقاله کي د استناد په خاطر حتی د امير خان متقي صاحب و ترکمنستان ته د دوه ځله سفر يادونه هم سوې ده. نومــوړی ليکوال او څېړونکی د ټاپي پروژې په تړاو د زرګونو کارکوونکو او د تېلو او ګازو د متخصصانو لېږل دا په حقيقت کي يو مهم بدلون ګڼي، ځکه چي د ټاپي پروژې د جوړولو کار د مقالې د معلوماتو له مخي له (۲۰۱۵)ز کال راهيسي روان دئ. متن د ټاپي پروژې د مصرفونو خوا ته هم اشاره کوي او وايي: ترکمنستان د ټاپي پايپليکي پروژې د لګښتونو د پوره کولو له پاره د پور ورکولو ژمنه کړې ده. اوسمهال د پروژې اټکل سوی لګښت (۹ – ۱۰) بيليونو امريکايي ډالرو پوري دئ، چې د ټاپي پايپليکي شرکت (TPCL) ئې د جوړولو او نظارت دنده په غاړه لري. دا چي ترکمنستان ولي بايد له اسلامي امارت سره اړيکي پراختي کړي، مقالې ئې په اړه داسي ټکي را اخيستي دي: "د پايپليکو او ټرانسپورټي دهلېزونو د پيل له پاره نوي فرصتونه سته، نو د دغو دليلونو له مخي ترکمنستان پرېکړه کړې، چې د اسلامي امارت له حکومت سره د ښو اړيکو پر پراختيا کي پانګونه وکړي." د صنايعو او سوداګرۍ وزير نور الدين عزيزي صاحب سفر ته هم اشاره سوې ده، چې وايي هغه وويل، کابل به له پولو د اوبو د سرچينو مديريت او د اوبو د تأسيساتو په جوړولو کي متقابل رضايت، برابرۍ او درناوي ته لومړيتوب ور کړي. عزيزي صاحب د دغو هڅو د بنسټ په توګه د ترکمنستان اوږدمهاله دوستي او ښه ګاونډيتوب په ګوته کړ. په مقاله کي د دواړو ملکونو د اړيکو په اړه د سوداګرۍ او صنايعو په خونه کي د افغاني توليداتو ننداريې ته وړاندي کېدل هم ياداوري سوي دي. د مقالې په متن کي د «شخصي نه؛ بلکي يوازي سوداګري» تر سرليک لاندي پر دې ټينګار سوی دئ، چې وايي د افغانستان د داخلي وضعيت د حللاري له پاره د "يوازي سياسي او ډيپلوماټيکو هڅو"په ملاتړ کي د ترکمنستان پر "مثبت بې پرېتوب" ټينګار کوي. د لاجوردو دهلېز ته هم په اشارې سره ليکي: افغانستان په ځانګړې توګه د لاجوردو دهلېز پروژې ته، چې افغانستان، ترکمنستان، اذربايجان، ګرجستان او ترکيه په کښې شامل دي، روسيې هم په کښې ګډون ته لېوالتيا ښودلې ده. د دې سرليک «له اسلامي امارت سره په اړيکو کي د ترکمنستان ستراتيژيکي موخې» لاندي د ټاپي پروژې د بريالي تطبيق، د امنيت تضمين، د ترکمنستان د پولو په اوږدو کي د يو باثباته او خوندي چاپېريال ډاډمنتيا، د ترهګرۍ او قاچاق خطرونه کمول، د اړيکو د پياوړتيا په نيت ټرانزيټ او ټرانسپورټ ته پام کول ټول په نامه سره ياد سوي دي، چې مقاله وايي دا ډول موخې بايد تر لاسه سي.